نرم او سخت وريښمين کالي مه اغوندئ، او د سپينو او سرو زرو په پيالو کې څښاک مه کوئ، او مه يې په لوښو کې خوراک کوئ، ځکه دا د هغوی (کافرو) لپاره په دنيا او زمور لپاره په آخرت کې دي

له عبدالرحمن بن ابي ليلى څخه روايت دى چې دوي له حذيفه سره وو، هغه اوبه وغوښتې، نو يو مجوسي اوبه ورکړې، کله يې چې لوښى په لاس کې ورکړ بېرته يې پرې وويشت او ويې ويل: که چېرته مې هغه يو يا دوه ځلې منع کړى نه و - لکه چې غوښتل يې داسې ووايې چې: داسې کار به مې نه و کړى- خو ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايلي يې دي: «نرم او سخت وريښمين کالي مه اغوندئ، او د سپينو او سرو زرو په پيالو کې څښاک مه کوئ، او مه يې په لوښو کې خوراک کوئ، ځکه دا د هغوی (کافرو) لپاره په دنيا او زمور لپاره په آخرت کې دي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم نارينه د هر ډول وريښمو له اغوستلو منع کړي دي. او نارينه او ښځې يې د سرو او سپينو زرو په لوښو کې له خوراک او څښاک څخه منع کړي دي. او ويلي يې دي چې دا د قيامت په ورځ خاص د مومنانو لپاره دي؛ ځکه چې دوي په دنيا کې د الله تعالى د اطاعت له امله ترې ډډه کړې وه. او د کافرانو لپاره په آخرت کې ندي؛ ځکه هغوی په دنيوي ژوند کې د خپلو ښېګڼو په لاسته راوړلو کې بېړه کړې چې دا ځيزونه يې کارولي، او د الله له امر څخه يې سرغړونه کړې ده.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2985